مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عزت‌الله ادیب

۲۰۲۳/۰۸/۰۷

# مختلط یا مېکس میتود تحقیق

## پس منظر:



د مختلط میتود څېړنه یوه تازه غوړېدونکې یا نوې را څرګنده شوې میتودولوژي ده چې د دریم میتودلوژیک حرکت په نوم یادیږي. دا مخ پر ودې میتودولوژي په مختلفو برخو کې د څېړونکو او ساینس پوهانو لپاره داسې نوی حرکت دی چې د څېړنو په برخه کې یې چټکه وده کړې او په مختلفو برخو، لکه صحت، تعلیم او تحصیل، ټولنپوهنه، تجارت او اقتصاد په برخو کې ډیر کاریدونکی میتود بلل کیږي. ددې میتودولوژي د ظهور، جوړښت، پرمختګ او تکامل په اړه ډیری نظریات او روایتونه موجود دي، خو په دې هکله د کریسویل او پلانو کلارک (Clark, 2011 Plano & Creswell) لخوا د مختلط میتود تاریخ او تر نن ورځ د ارتقا په اړه روایت او نقشه خورا مشهوره ده. دې دواړو لیکوالانو د مختلط میتود د تکامل لاندې پنځه دورې ذکر کړې دي:

- جوړښت: ۱۹۵۰ څخه تر ۱۹۸۰ لسیزې پورې
- د هدف او پارادایم په اړه بحثونه: ۱۹۷۰ څخه د ۱۹۹۰ لسیزې تر اخرو کلونو پورې
- د طرزالعمل او کړنلارې پراختیا: ۱۹۸۰ څخه د ۲۰۰۰ تر ورستیو پورې
- نیاو غوښتنه او پرمختګ: ۲۰۰۰ څخه تر ۲۰۰۹ کلونو پورې
- انعکاس او ډیر کاریدل: ۲۰۰۳ څخه تر نن ورځ

په دې موده کې د مختلط میتود په اړه زښت زیات بحثونه شوي دي، د دې میتود قوي یا مثبتو او کمزورو یا منفي نقطو په اړه مقالې او کتابونه لیکل شوي دي؛ خو ځینې ساینس پوهانو دې برخې ته ډیر کار کړی دی، چې تر نن ورځ یې په دې برخه کې نوم روښانه او ډیر یادول کیږي.

## پېژندنه:

مختلط میتود یوه هر اړخیزه څېړنه ده چې د یوې موضوع یا واحدې څېړنې لپاره د کیفي او کمی میتودونو څخه، یو مشخص او واحد هدف ته د رسیدو لپاره، په زنځیره‌ایز کار اخلي. د یوې خورا مغلقې او پېچلې موضوع د شنلو او څیړلو، اطلاعاتو را ټولولو او تحلیل لپاره مختلف میتودونه سره مدغم کوي؛ تر څو د موضوع اړوند داسې پوهه-مالومات او پایلې تر لاسه شي چې یوازې د کمي یا کیفي میتود په کارولو سره یې تر لاسه کول ناممکن وي.
د مختلط میتود څیړنه په ټولنیزو علومو کې د داسې پېچلیو او مغلقو پوښتنو لپاره د حل موندلو او باریکو موضوعاتو په اړه د مالوماتو تر لاسه کولو لپاره رامنځته شوې دي، چې یوازې د کیفي یا کمي میتود پر مټ ورته رسیدل ناممکن وي. په یوه څېړنه کې د دواړو میتودونو ادغام د موضوع اړوند بشپړ تصویر رامنځته کوي، او څېړونکو ته د ډاټا د تثلیث وړتیا ورکوي. د ډاټا تثلیث د پایلو د اعتبار او باور سطحه لوړوي. په دې سره ویلی شو چې مختلط میتود څیړنه درې برخې لري:

کمي جز یا برخه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مورسره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

کمي جز له سیستماتیکو تجربوي میتودونو سره د شمېرو او احصائیوي تحلیل پر مټ تر سره کېږي. څېړونکي ډېرې وخت سروې، تجربوي څېړنې، ارزیابي، یا ثانوي مالومات تحلیلوي تر څو د متغیرونو تر منځ اړیکې، او رجحانات اندازه کړي. دا برخه د پایلو د تعمیم کولو وړتیا لري او د څېړنې د ستونزې په اړه د پوهاوي کمیتي اساس چمتو کوي.

- کیفي برخه

کیفي برخه د غیر عددي مالوماتو د را ټولولو پر مټ د مانا، تفسیر، او د ګډون کونکیو پر موضوعي او شخصي تجربو د پوهېدو لپاره کارول کیږي. په دې برخه کې څېړونکي د مرکې، فوکس ګروپ، مشاهدې او د محتوای تحلیل په کارولو سره د څېړنېزې موضوع پېچلتیاوې او اړونده لنډیزونه پلټي.

- د ادغام برخه

د مختلط میتود په جریان کې د مالوماتو را ټولولو، تحلیل او تفسیر پر مهال د مختلفو میتودونو د ادغام پروسه عملي کیږي. دا پروسه د موندنو د تثلیث، د پایلو د تصدیق او د څېړنېزې ستونزې په اړه د لا پراخې پوهې د رامنځته کولو په برخه کې خورا زیات اهمیت لري. که د ادغام پروسې ته ښه ځیر شو، نو ویلی شو چې د دې معادله به څه داسې وي، ۱ + ۱ = ۳.

### د مختلط تحقیق کارول او فایده:

مختلط میتود څېړنه ډېرې زیاتې ښېګڼې او مزایاوې لري چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

هر اړخیز پوهاوی: په مختلط میتود څېړنو کې د کمي او کیفي میتودونو په یو ځای کولو سره، څېړونکي د څېړنیزې ستونزې اړوند جامع، پراخه او هر اړخیزه پوهه تر لاسه او رامنځته کوي. په دې برخه کې د یوه میتود پیاوړتیا د بل میتود تشه ډکوي چې پایله یې پیاوړې او دقیقه وي.

- د مالوماتو تثلیث: په دې برخه کې، له مختلفو سرچینو یا میتودونو څخه، ډاټا یا اطلاعاتو ته د متقابل اعتبار د ورکړې پروسه شامله ده. مختلط میتود څېړنو کې څېړونکی د تثلیث یا مثلثسازۍ پر مټ د څېړنې پایلې تائیدولی شي چې په دې سره د پایلو د اعتبار او باور کچه لوړیږي.
- د هر ډول او اندازې څېړنېزو پوښتنو ځوابول: د مختلط میتود څېړنه دا وړتیا لري چې د ټیټې او لوړې کچې هر ډول څېړنیزې پوښتنې ځواب او حل کړي. کمي ډاټا کولی شي د پراخه رجحاناتو او نمونو اندازه را څرګنده کړي، او کیفي اطلاعات د موضوع اړوند اصلي دلیلونه او میکانیزمونه تشریح کوي.
- هر اړخیز تحلیل: د کمي او کیفي میتودونو ادغام څېړونکو سره د څېړنیزې ستونزې د ډېرو اړخونو په شنلو کې مرسته کوي، چې دا کار د سطحي تحلیل او مشاهداتو له توان څخه بهر دی. هر اړخیز او مختلط تحلیل د څېړنیزې موضوع اړوند عمیق او ژور پوهاوی رامنځته کوي.
- تطبیقي اسانتیا: د مختلط میتود څېړنه ډېره عملي ده او تطبیقي وړتیا لري؛ ځکه دا ډول څېړنه د میتودونو د ادغام، ډاټا را ټولولو، تحلیل او له موجوده محدودیتونو سره انعطاف منونکې ده. دا انعطاف د څېړنې تطبیقي وړتیا لوړوي او په عملي برخه کې د څېړونکي کار اسانوي.

مختلط میتود څېړنې یوه ځانګړنه او مشخص اړخ لري چې په بل ډول څېړنو کې نه ترسترګو کیږي. هغه اړخ دا دی چې په دې ډول څېړنو کې مختلف ډوله کرنلارې او میتودونه داسې سره را ټول یا یو ځای شوي وي چې هدف ته د رسیدو لپاره په زنځیرهایز ډول کار کوي. (Bazeley, 2009, 2012, 2018 Azorín-Molina & b; Fetters, 2017). د ډاټا را ټولولو پر مهال ممکن ځینې مالومات د مختلفو میتودونو تر منځ تبادله شي؛ مګر ډاټا او له مختلفو سرچینو او میتودونو څخه تر لاسه شوې لومړنۍ پایلې به د تحلیل د پروسې پر مهال سره یو ځای، او په دې توګه به د څېړنې وروستی هدف تر لاسه شي.
میرتینز او ملګري یې د ۲۰۱۶م کال کتاب په ۲۲۲ مخ کې لیکي؛ په یوه څېړنه کې د مختلفو میتودونو یو ځای کول یا یو ځای کارول د هغه شیانو د لیدلو فرصت برابروي، چې تر اوسه لیدل شوي نه وي. همدا ډول؛ کریسویل او پلانو کلارک ۲۰۱۸، پیټرز او پریشواټر ۲۰۱۵، ټیډلي او تاشاکوره ۲۰۰۹ کتابونو کې لیکي چې، یوازې د کیفي یا کمي څېړنې پر مټ د تر لاسه کېدونکي ممکنه ډاټا څخه ور هاخوا د لا زیاتې ډاټا را ټولول او پوهې یا مالوماتو تر لاسه کول، یوازې د مختلط میتود او یا د میتودونو د ادغام پر مټ تر لاسه کېدای شي. دا په دې مانا چې د یوې موضوع عمق ته د رسیدو لپاره باید مختلط میتود وکارول شي؛ ځکه که د همدې موضوع لپاره یوازې کمي یا کیفي تګلاره وکارول شي؛ د موضوع عمق ته رسیدل به ډېر ستونزمن او حتی نا ممکن کار وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

نتیجتآ ویلی شو چې، مختلط میتود یو خورا ارزښتناک میتود دی چې پېچلو ټولنیزو ستونزو ته د حل موندنې لپاره د کیفي او کمي دواړو میتودونو پیاوړتیاوې سره یو ځای کوي، او د څېړنیزې پوښتنې لپاره هر اړخیز او بشپړ ځواب تر لاسه کوي. مختلط میتود تحقیق د یوې پرمختللې او پیاوړې وسیلې په توګه، په مختلفو اکاډیمیکو څانګو کې د څېړنې د موندنو اعتبار زیاتوي، او څېړونکي سره د اکاډیمیکو او موجوده شرایطو په رڼا کې د پریکړې کولو په برخه کې مرسته کوي. همدا ډول، د دې میتود په کارولو سره څېړونکي داسې پایلو ته رسیدلی شي چې یوازې په کمي او یا کیفي میتود یې تر لاسه کول ناممکن وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ